# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## ۱۵ مه ګڼه ۱۹۹۵ کال

Jahrg./vol:1995/ 9 nummer/ no: 15




## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN**
**Paschtunchwa/Afghanistan- PARTEI DER PASCHTUNEN**

# ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan

www.pashtoonkhwa.com


pashtoonkhwa@gmail.com

psdp@gmx.net

## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI

RICHRDSTR. 5

50389 Wesseling - Germany

Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسيد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستوری ابسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |




سرليکونه او ليکوال — مخ


د پښتنود يووالی په و رځ د پښتنود تولنيزا ولسوليزگوند د مشر ډ اکتر کبير ستوری وينا ٢
د مودو ارزو عزيز سرشار ٥
قوميت او مليت محمد افغان اباسين ٦
تخيلګښی حقيت اجمل ختك ٩
د پښتونخواپه دننه او بهرګښی د پښتنود تولنيزا ولسوليزګوند تولو غړو ته ١٠
افغانستان دتاريخ په اوږدوګښی انجنيرمحمد حنيف ساپی ١٦
شعر تازه ګل ١٧
نوی زړی خبريال عزيز سرشار ١٨
افغانان داور په لمبوګښی ميرمن شهلا يار ٢٨
دپښتو لار کبير ستوری ٢٩
راسره وژړل ٣٠
دتاريخ ننګيالی ٣٢


خپرونکي : دپښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند پښتونخوا/افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen Paschtoonchwa / Afghanistan

Publisher: Pashtoons Social Democratic Party Pashtoonkhwa / Afghanistan

زمه وار

V. S. I. P.

RESPONSIBLE FOR CONTENTS

ډوکتور کبير ستوری

DR. KABIR STORI

RICHARD-STR. 5

50389 WESSELING

GERMANY

Tel.: (02236) 83463


Redaktion Editors Board — د خپرونی جرګه :

| | |
|---|---|
| Ali Khan Masood | عليخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدايت بنګش |
| Mabariz Safi | مبارز صافی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Abdul Nasir Stori | عبدالنصير ستوری |
| Gulgutai Kunarai | ګل غوټی کونړی |

## د پښتنو د یووالي په ورځ (۱۲ نوامبر ۱۹۹٤) د پښتنو د ټولنیز - او لسولیز ګوند د مشر ډاکټر کبیر ستوري وینا

درنو میلمنو او ګرانو وطنوالو!

زه له تاسې څخه د پښتنو د ټولنیزا ولسولیز ګوند له اړخه خوښنه کوم چې خپل کارونه مو پرېښودلي او دلته مو په خپل راتګ سره د پښتنو د یووالي ورځ درنه او ښکلې کړې ده.

د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند چې تاسې ئې د پښتنو د یووالي د ورځې جشن ته رابللي یاست د پښتنو ملي آزادۍ د غورځنګ یو مبرخه ده چې ۱۹۲۹ کال کښې د انګریزي ښکېلاک په ضد د باچاخان (فخر افغان) په مشرۍ منځ ته راغلی دی.

په افغانستان باندې د شوروي ا نو د یرغل وروسته د پښتونخوا په دننه او بهر کښې د دې غورځنګ پلویانو یوه د اسې ټولنیزا ولسولیز ګوند د جوړېدلو ضرورت ولیده چې د پښتونولۍ او ملي علا یقو په بنسټ ولاړ وي او د وطن د ازادۍ او امن چغه پورته کړي. وروسته د اوږدې مودې تیارۍ او تماسونو څخه د ۱۹۸۱ کال د فرورۍ د میاشتې په ۲۷ نیټه د د پښتنو د ټولنیزا ولسولیز ګوند بنسټ کېښودل شو چې لرا و بر پښتانه پکې راټول شول.

پښتانه چې په اوسني وخت کښې ۳۵ میلونه اټکل کېږي د نړۍ په لرغونو قامونو کښې شمېرل کېږي او د یوه بډای او مړه کلتور خاوندان دي چې پښتونولي نومېږي. پښتونولي د جرګو یوا ولسولیز سیستم دی چې بنسټ ئې په پښتو ولاړ دی. پښتو یوازې د پښتنو ژبه نده بلکې د یو لړ صفتونو مجموعه ده لکه پت، ښېګړه، مېړانه، توره، ورورولي، ننګ او داسې نور چې هر پښتون ئې کې موږ وی او که غریب باید ه دي چې ولري.

پښتو د ټولو پښتنو ګډه ښکلا ده نو ځکه پښتون نیکه خوشحال خان بابا وائي: درست پښتون له قندهاره تر اټکه

سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار



د جرګو سیستم د پښتونولۍ بنسټ جوړ وي او اوس په مونږ کښې رواج دی د هغه ډیو ټولنو محصول دی چې لس زره کاله د مخه اټکل کېږي دا د دې مانا لري چې پښتون قوم لس زره کاله د مخه موجود وو. پښتنو په خپل د ډېر او زړ تاریخ کښې د ډېر سره ډېر او تود و تېر لیدلي دي خو تل ئې خپل ملي هویت ساتلی دی. یو د بره سل کاله د مخه پیرنګیانو د ې هڅه وکړه چې د ډیورند د کرغېړنې کرښې پواسطه په مصنوعي توګه پښتانه په برخو وویشي خو پښتانه چې نه یوازې




په عکس کښې ښې اړخ ته بنګش او کین اړخ ته ستوري لیدل کېږي

ګډ تاریخ، ګډه ژبه او کلتور لري بلکې جغرافیائي وحدت هم جوړوي، د غه کرښه په عمل کښې نده مراعت کړې او بې د پاسپورټه یو د بل سره تګ راتګ لري. څنګه چې د هند د نیمې وچې څخه د پیرنګیانو په وتلو سره د ډیورند ترون د او لسونو د حقوقوله مخې په اوتوماتیکې توګه د اعتبار ه لوېدلی وو ځکه چې په کوم هدف چې د غه ترون منځ ته راغلی وو هغه هدف د



منځه تللی وو، نو د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند پر وسږ کال د غه ترون چې هډ و د اعتبار مود مېکي نده لېکل شوې په رسمي توګه د تل لپاره لغوه اعلان کړا و د ردي کاغذ ونو ټوکرۍ ته ئې وغورځاوه. په عمل کښې هم د پښتنو یووالي د یوې لړۍ په بڼه کښې مخ په وړاندې روان دي، د دې لړۍ لومړۍ پړاو لرې پښتونخوا ته د بېرې پښتونخوا د پښتنو په کډه کولو سره پیل شوې دی چې یو د بل سره تماسونه زیات شوي او ښېخي ګانې هم پکې منځ ته راغلې دي.

د شوروي اتحاد د ړنګېد و وروسته د نړۍ په تاریخ کښې نوې سیاسي پړاو پیل شوی دی. د دې پړاو نښې نښانې په کمونستي د یکتاتورۍ باندې د اولسولۍ برۍ، د ښکېلاکي ځنځیرونو ماتول، د ویشل شوو ولسونو بیرته یووالي او د خپلواکو هیواد ونو جوړېدل دي. د نړۍ نوي سیاسي نظم جوړېږي او نوې سیاسي نقشه منځ ته راځي چې دا پښتنو ته د یووالي او خپلواکۍ زیری ورکوي.

د پښتنو یو خپلواک هیواد پښتونخوا په سیمه کښې د سولې ثبات او اولسولۍ تضمین دی چې د اسین (ASEN) د هیواد ونو د ټولنې په نمونه سره د ګاونډ ی هیواد ونو سره د خپلوګډ وعلا یقو په بنسټ د سیمې او د نړۍ د انسانانو د هوسائې د پاره ګډ کارکولي شي.

کله چې مونږ د پښتونخوا څخه خبرې کوو نو مطلب مو د احمد شاه بابا افغانستان دی د احمد شاه بابا د پاره د افغانستان او پښتونخوا نومونو یوه مانا لرله کله چې احمد شاه بابا د ډهلي تخت ونیوه نو وویل:

د ډهلي تخت هېرومه چې را یاد کړم

زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

د احمد شاه بابا افغانستان د ورونو قومونو پښتنو، هزاره، ازبک تاجک، ترکمن، بلوڅو او نورو ګډ کور دی.

زمونږ ګوند په منشور کښې په فدرالي بڼه کښې د ورونو قومونو حقوق خوندي شوي دي چې د هیواد په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند کښې د خپل شمېر سره سم عادلانه برخه ولري. کومه ورووژنه چې نن سبا زمونږ په ګران هیواد کښې روانه ده مونږ ئې په کلکه سره غندو او د ملګرو ملتونو او ټولو نورو هڅو ملاتړ کوو چې په هیواد کښې د جرګو او مرکو د لارې سوله راولي او د یو پرګوند یزه اولسولي پلي کوي.



په پای کښې د پښتنو د ټولنیزا ولسولیز ګوند د میرمنو د ټولنې، د ځوان پښتون، د ننګیالي پښتون، د پښتنو د کلتوري ټولنې، د پښتون کورا و ټولو هغه کسانو څخه چې د دې میلې په تنظیم او سمبالښت کښې مرسته سرته رسولې ده د زړه له کومې خوښنه کوم. د ټولو زیاته خوښنه د نامتو فنکارانو استاد شاه ولي، انور خیال، صاحب ګل او انور شاه څخه کوم چې د امیله په خپل فن او هنر رنګوي.

## «د مود وارزو» د پښتنو د یووالي د ورځې په مناسبت.

په رڼا ورځ دې محله پوری راغلم

نن دې یاره تر د رشله پوری راغلم

ارمانونه مې نیمګړی وو تر خیاله

د مود وارزو منزله پوری راغلم

د پښتون فکر په هوډ باندې روان یم

بې پروا یم که اجله پوری راغلم

ستا وصلت مې په نصیب او س خامخا دی

چې دیدن ته دې مور چله پوری راغلم

د غیرت په صحرا سروم ستا په مینه

اوس دې ګرانه تر او ربله پوری راغلم

مبارك دې دا وصال وی تل تر تله

د خیبر ځنځیر ئې مات کړ تر خیبره پوری راغلم

د عزیز د زړه بې شانه اتنظا ره

شوی پوره تر دې محفله پوری راغلم

(عزیز سرشار)

> د دونیا خایست به واره ترې لوګی کړم
> د وطن د یو بد رنګه تور زنګی نه
> ساقي ټوله میخانه دې ترې لوګی شه
> پښتنه چې جام راډك کړی د منګی نه

# نوی زېری

مخبریال: عزیز سرشار

**کلن:** د ۱۹۹۴ عیسوی کال د سپټمبر په ۲۴ نېټه د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند په نوښت د آلمان د اتحادي جمهوریت د کلن په ښار کښې «په افغانستان کښې د سولې او دیموکراسۍ» د سرلیک لاندې یو علمي سیمینار جوړ شو. چې یو شمیر افغاني پوهانو، شخصیتونو او روښنفکرانو پکښې برخه درلوده.

د دغه علمي سیمینار په پای کښې د برخه والو ګډونکو په اکثریت سره لاندې پریکړه لیک تصویب کړ:

۱) افغانستان سره لدې چې یو اسلامي هیواد دی او د بېلو بېلو ورونو قومونو ګډ کور دی د یو بر محله ئی خپلې ملي شخړې د ملي منلو عنعناتو له مخې د لویې جرګې په وسیله حل او فصل کړي. مونږ پدې باور لرو چې یوه لویه ملي جرګه کولی شي د مسالو د حل روغې لارې رامنځ ته کړي.

۲) د سیمینار ګډونکي پدې باور دي چې د لویې جرګې د جوړېدو او په افغانستان کښې د سولې د پروسې د دوامن تامین په خاطر د ملګرو ملتونو فعالې ونډې او پراخه مادي او معنوي مرستې ته اړتیا ده. پدې برخه کښې د ګاونډیو هیوادونو ناوړه لاسوهنې مخنیوی هم یو اساسي شرط دی.

۳) په پام کښې نیول شوې لویه جرګه به په افغانستان کښې د بشپړ او ربند د یوې موقتې ادارې جوړېدل، د اساسي قانون تسوید او د ازادو انتخاباتو لپاره لازم شرایط برابرول د خپلو دندو په سر کښې ولري.

۴) موقته اداره به دنده ولري چې د سولې د دوامن تامین په خاطر ټولې وسلې راټولې، ملي اردو تاسیس او په هیواد کښې د بیارغونې پراخه پلان طرح او د عمل ګرته وړاندې کړي.

۵) د سیمینار ګډونکي غوښتنه کوي چې د سولې، د سولې د پروسې تامین او ټینګښت په جریان کښې د بشر د حقوقو، د خلکو د ملي او کلتوري ازادیو او په هیواد کښې د ناړینه وو سره د ښځو حقوقو تساوي ته دې ژوره عملي پاملرنه وشي.

۶) د سیمینار ګډونکي د ټولو افغاني وطنپالو ځواکونو او ملي ټولنیزو شخصیتونو څخه غوښتنه کوي چې په هیواد کښې د سولې او دیموکراسۍ د تحقق لپاره په یوه پراخ ملي او اولسي غورځنګ کښې سره راټول شي.



**جرمني:**

د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند د ناروې د څانګې مشر ښاغلی محمد نادر سرشار د ګوند د مشر په بلنه تیر کال المان ته راغلی وو د ګوند د مشر او د مشرانو د جرګې د ځنې غړو سره ئې وکتل د پښتونخوا خبریال د ښاغلي سرشار څخه وپوښتل:



ښاغلی سرشار صیب دا چې تاسې د ډاکټر نجیب الله په وخت کې د اولسي جرګې غړی وی نو د نجیب الله د حکومت د اولسي جرګې او د پاچاهي د دورې د اولسي جرګې ترمنځ توپیر څه وو ۲— دا چې تاسې د کونړو ولایت د کرهالی د کلی اوسیدونکی یاست هیله ده چې د کرهالی د بدمرغی ځورونکی پیښې په حقله معلومات راکړی؟

د لومړۍ پوښتنې ځواب: تاسو ته پوره څرګنده ده چې په افغانستان کښې هیڅ وخت واقعي دیموکراسي لرونکي حکومت موجود نه وو ګله چې په یوه ملک کښې واقعي دیموکراسي نه وی نو هلته پارلماني فعالیت هم په یوه محدود چوکاټ کښې سرته رسیږي. ځکه په نظر د پاچاهي د دورې او نجیب الله د وخت د پارلمانونو ترمنځ یو توپیر دا وو چې د پاچاهي د دورې پارلمان یو اپوزسیوني شکل درلود او دا چې په هغه وخت کښې سیاسي ګوندونه موجود نه وو د پارلمان نماینده ګانو په نسبي توګه د خپلو نظریاتو څرګندونه په ځانګړې ول څرګندوله ولی د نجیب الله د وخت د پارلمان دریمه برخه غړی د خلق دیموکراتیک ګوند غړی وو اکثره ګوندي وکیلانو په زیات شمیر مسئلو کښې خپل شخصي او ځانګړی نظر نه شو څرګندولای او د ګوندي پارلماني فرکسیون د مشرانو خاصتاً د نجیب الله د لارښونو سره سمې پارلماني دندې سرته رسولې چې اکثره پریکړو ملي ګټو سره پوره سموالی نه درلود. او هغه شمیر ګوندي وکیلانو چې ملي ګټې بعضې په ګوندي او ګروپي ګټو مقدمې او مخکې ګڼلې هغوی همیشه په مستقیم او غیرمستقیم ول د رژیم لخوا د سخت سیاسي فشار او تهدید لاندې ووچې د هغوی د ډلې د وکیلانو څخه زه یم چې هیڅ ګله



می د ګوندي دستور په اساس په پارلمان کښې فعالیت سرته ندی رسولی نو همیشه د سخت تهدید او فشار لاندې وم چې د دغه واقعیت د هغه وخت ګوندي او غیرګوندي وکیلانو ته پوره څرګند دی.

د دوهمې پوښتنې ځواب: ستاسو دې پوښتنې په ځواب کښې باید عرض کړم که څه هم زه د کونړونو ولایت د کرهالی د کلی د غمناکې او دردیدلې پیښې په وخت کښې د کابل د دهمزنګ په جیل کښې زنداني وم لاکن دا حقیقت ټولو ته څرګند دی چې د کرهالی د کلی په سلګونو بې ګناه خلك چې د هغوی په ډله کښې زما د کورنۍ د (۶۰) تنو څخه زیات شامل وو په ۲۰ د اپریل ۱۹۷۹ کال یوې جنایتکارې د لګړ د مارش او مېټینګ په پلمه راغونډ کړي او بیائې بې د کوم جرم د اثبات څخه بې ګناه په رڼا ورځ په ډله ایزه توګه په شهادت رسولي او د بلډوزر په واسطه ئې د خاورو لاندې کړي دي چې څلې ئې موجود دي چې د دې غمناکې تراژیډۍ په خپل وخت کښې د نړۍ په مطبوعاتو کښې پوره انعکاس موندلی دی.



په افغانستان کښې د سولې او دیموکراسۍ د سرلیک لاندې سمینار څخه



**اسلام آباد:** د پښتون کلچر ایسوسیشن اسلام اباد / راولپنډۍ (د اسلام اباد او راولپنډۍ د پښتنو کلتوري ټولنې) یوې درنې غونډې ته د پښتونخوا نامتو لیکوال او شاعر ښاغلي رحمت شاه سائل خپله وینا پدې شعر سره پیل کړه

سوال نیمګړی ترینه مه کوه غریبه
بې طاقته ندی شته طاقت د رب

ښاغلی سائیل صیب وویل چې که مونږ د دې ملك اوسیدونکی یو مونږ ژبه لرو او دا ملك ازاد ملك وی نو ره دا ژبه او د دې سرحدې دا زیاتی نه کیږي بلکه یو مکمل چینل دلته د ژبې لپاره ورکول پکار دی.

د اکاډمي ادبیاتو د چیرمین فخرالزمان صیب په حواله ده وویل چې دې ژبو ته علاقائي ژبې ویل ښه خبره نده. دې ته په مېډ یا قومي ژبې ویل پکار دی. وروسته ښاغلي سائیل صیب خپل دا شعر په ترنم سره حاضرینو ته وړاندې کړه.

د محبت وجود ده اور شوی خدای دی اور لره
خدای دې ز خمونه په خپل درد باندې ټکور لره
د خپل جانان تصویر له خپله برخه رنګ و رکړه
څه وسیله خو په خپل لاس کښې د پیغور لره
وید ه کېږد و ته تماشي د ژندګۍ مه پرېږده
د زړه په خونه کښې خو چرته شو رلره
په محبت کښې دومره سپینه لمن خوند نه کوي
پرې د جانان د خوبولو سترګو تور لره
سرې یو ازې د خپل زړه په دشت کښې سترې هم شي
د بل په زړه کښې هم وروکې شانې کور لره
د بیلتانه نارې سورې دي په هر لور سائیله
د دیدن دوه و رځوته دوه سترګې څلور لره

غوږ ته مې ناره د ملالۍ راځي
بیا پښتنې پیغلې په سیالۍ راځي
پورته هنګامه بیا د ننګونو شوه
شور د پښتنو د خپلواکۍ راځي

**کلن:** د ۱۹۹٤م کال د سپتمبر په میاشت کښې د پښتنو د تولنیزا ولسولیزگوند د ځوان پښتون د ډلې د مشرانو د نوی ټاکنې لپاره د کلن په ښار کښې غونډه وکړه.
غونډې ته د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند مشر ډاکټر کبیر ستوری اود گوند د مشرانو جرگې یو شمیر غړی هم بلل شوی وو.
غونډه د ځوان پښتون د ډلې د مرستیال ښاغلی عبدالولی برهان له خوا پیل شوه.
د ځوان پښتون د ډلې د رایو په اکثریت سره ښاغلی غلام نبی (سخی) د ځوان پښتون د ډلې د مشر، ښاغلی عارف (غرگی) د لومړي مرستیال، ښاغلی اکرام الله خان د دوهم مرستیال ښاغلی ایمل خان (ستوری) د لوی منشی، ښاغلی طارق (حبیب) د بهرنیو چارو د څانگې د مشر، ښاغلی امیر کرور (ستوری) د خپرونو د چارو د څانگې د مشر او ښاغلی ایمل (هاشمی) د مالی چارو د څانگې د مشر په توگه وټاکل شول.




د PSDP دځوان پښتون د ډلې د ټاکنې د غونډې څنډه.



**کلن / جرمنی:** د ۱۹۹٤ کال د نومبر د میاشتې په ۱۲ نیټه د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند له خوا د کلن په ښار کښې د پښتنود یووالي پرتمینه و رځ ونمانځل شوه چې گڼ شمیر هیوادوالو او بهرنیانو پکښې گډون کړی وو.
غونډه د ماښام په شپږو بجو د پښتونخوا د ملی سرود په اورېدو سره پیل شوه د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند د مشر ډاکټر کبیر ستوری لخوا د دې ورځې په مناسبت وینا وشوه اود پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند لمړی مرستیال ښاغلی ایډوکیټ علیخان محسود لخوا د پښتنواو د سیمې په حالاتو رڼا واچول شوه. د پښتونخوا څخه راغلو نامتو او خوږ ژواو زو سندرغاړو ښاغلی استاد شاه ولی، ځوان سندرغاړی انورخیال، ښاغلی استاد انورشاه او ځوان فنکار صاحب گل د پښتو ملی موسیقۍ سره غونډه ښکلې کړې وه. همدارنگه د پښتنود یووالي د ورځې په مناسبت راغلی پیغامونه واورول شول.
د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند د خپرونو د چارو د څانگې لخوا د پښتنود یووالي د ورځې په مناسبت په زړه پوری مشاعره جوړه شوې وه چې د پښتنو شاعرانو له خوا پکښې شعرونه واورول شول. غونډه د پښتو موسیقۍ او ملی نغمو او برخه والو لخوا د ملی اتڼ په ورانديکولو او په ولولو سره پای ته ورسیده.



د پښتنود یووالي ورځې د موسیقۍ ځنډه



**کُلن:** د ۱۹۹٤ عیسوی کال د نوامبر د میاشتې په دیارلسمه او اتلسمه نیټه د پښتنو کلتوری ټولنې لخوا د کلن په ښار کښې په زړه پوری ماښامی ترتیب شوی وو.
د لمړی ماښامی په پیل کښې د پښتنود کلتوری ټولنې مشر محمد شیرین گرد یوال لخوا په پښتنی کلتور رڼا واچول شوه ورپسې د پښتونخوا نامتو سندرغاړو استاد شاه ولی، ځوان فنکار انورخیال، ښاغلی استاد انورشاه او ښاغلی صاحب گل لخوا د پښتو موسیقی مینه والو ته وړاندی شوه. ماښامی د پښتنی نغمو و ملی اتڼ په وړاندی کولو سره پای ته ورسید.
همدارنگه د اتلسم (۱۸) کلتوری ماښامی په ترځ کښې د پښتنود تولنیز اولسولیزگوند مشر ښاغلی ډاکټر کبیر ستوری د پښتنی کلتور او موسیقۍ د ارزښت په هکله وینا واوروله ورپسې د پښتنود تولنیز اولسولیزگوند د کلتوری او هنری څانگې د پوهنیزی جرگې لخوا د خیرنې او ازموینې وروسته ښاغلی استاد شاه ولی ته د پښتو موسیقۍ د ارمونیې د شهنشاه لقب، ښاغلی ځوان فنکار



انورخیال ته د باچاخان جایزه اود پښتو موسیقۍ د استاد پوهنیزه درجه، ښاغلی انورشاه ته د پښتو موسیقۍ



د طبلې د شاهکار لقب او ښاغلی ځوان فنکار صاحب گل ته د پښتو موسیقۍ د استاد پوهنیزه درجه، ور کړل شوی.
د پښتنود کلتوری ټولنې مشر محمد شیرین گرد یوال ته د پښتنی کلتور ته د نه ستړی کیدونکو خدمتونو له امله د باچاخان جایزه چې په ۱۹۹۲ کال کښې د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند لخوا منظور شوی وه ورکړل شوه. ماښامی د پښتو موسیقۍ د مینه والوا گډونکوپه ولولوا و د ملی اتڼ په وړاندی کولو سره پای ته ورسید.

<u>**ویسلنگ / جرمنی**</u> د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند د مشرتابی دفتر (دارالانشا) خبر ورکړی چې د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند مشر ډاکتور کبیر ستوری په جرمنی کښې د گوند د مشرانو جرگې د ټاکنې (ایلکشن) د نتیجو په هکله ویلی دی چې په جرمنی کښې د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند په څانگه کښې د لری پښتونخوا د ملگرو شمیر په سلو کښې د شلو (۲۰) څخه کم دی خو دا چې د لری پښتونخوا هغه ملگرو چې د مشرانو جرگې لپاره ځانونه کاندید کړی دی ټولو په سلو کښې د (٦٤ نه تر ۹۸) د څلور شپیته نه تر اته نوی پوری رائې (ووټونه) گټلی دی چې مونږ ته دا را په گوته کوی چې زمونږ د گوند په غړو کښې ذهن ویشل شوی نه دی او د لرا و بر پښتون تر منځ توپیر نه کوی ځکه چې دا ووټونه د لری پښتونخوا هغه ملگروته چې ځانونه ئې د مشرانو جرگې لپاره کاندید کړی وو د بری پښتونخوا ملگرو ورکړی دی که نه نو د وی د ووټونو شمیره به په سلو کښې د شلو (۲۰) څخه کمه وای ستوری زیاته کړه چې پښتون قام په سیمه کښې تر ټولو غښتلی ځواک دی چې سوله، ټینگښت او امن راوستلی شی او یوداسې ډیموکراتیک عنعنوی اولسی سیستم لری چې پښتنو ولسی نومیزی او جرگه ئې بنسټ جوړوی او خپلی ربړی پخپله حلولی شی.
دا چې د نړی په اوسنی تاریخی سیاسی پړاو کښې په سیمه کښې ربړی ډیری شوی او غښتلی شوی دی چې د حل لپاره ئې د ټولو پښتنو د یوې داسې اولسی جرگې د جوړولو ضرورت لیدل کیږی دا جرگه پکار ده چې د پښتنود قومی، سیاسی او ټولنیز ویش په بنسټ منځ ته راشی چې د ټولو پښتنو د علاقو نمایندگی وکړی شی.

د پښتنوتولنيزا ولسوليزګوند
دټاکنې جرګه

نېټه ۱/اپريل/۱۹۹۵
کولن .

## دټاکنې نتيجې

د ۱۹۹۵ اعيسوي کال دا پريل د مياشتې په لمړۍ نېټه پښتنود ټولنيزا ولسوليزګوند د جرمنۍ د څانګې د مشرانوجرګې د کاندېدانو ټاکنه پای ته ورسېده . دټاکنې د جرګې لخوا ووتونه وشمېرل شوو دټاکنې نتيجې په لاندې ډول دی :

| | |
|---|---|
| ۱ــ ميرمن عايشه زماني ساقي دګوند دټولنيزو چارو مشره | 93.4 % |
| ۲ــ ښاغلی سيد عليشاه دګوند سلاکار | 96.4 % |
| ۳ــ ښاغلی ډوکتور صابر دګوند دسياسي چارو مشر | 97.7 % |
| ٤ــ ښاغلی عليخان محمود دګوند دمشر لومړی مرستيال | 93.77 % |
| ٥ــ ښاغلی محمد شيرين ګرد يوال دګوند دمشر دوهم مرستيال | 72.46 % |
| ٦ــ ښاغلی هدايت الله بنګش دګوند عمومي منشي (جنرل سيکرټری ) | 64.26 % |
| ۷ــ ښاغلی خان محمد مبارز صافي دګوند دکورنيو چارو مشر | 99 % |
| ۸ــ ښاغلی ډوکتور ګروال حضرت رسول دګوند دمالي چارو او ننګيالي پښتون ( پوهنې چارو ) مشر | 79.6 % |
| ۹ــ ښاغلی ډاکتر عبدالله عزيز دګوند سلاکار | 89.8 % |
| ۱۰ــ ښاغلی عطامحمد شيرزی دګوند سلاکار | 85.9 % |
| ۱۱ــ ښاغلی محمد غوث شيرزاده زماني دګوند سلاکار | 85.2 % |
| ۱۲ــ ښاغلی عبدالجليل خان دګوند سلاکار | 98.7 % |
| ۱۳ــ ښاغلی نصير خان دګوند سلاکار | 97.% |
| ۱٤ــ ښاغلی حاجي فضل الرحمن شير دګوند دمشر سلاکار | 81.6 % |
| ۱٥ــ ښاغلی ډيپلوم انجنير حبيب رسول دګوند دپوهنيز و چارومشر | 77.7 % |
| ۱٦ــ ښاغلی عزيزالرحمان سرشار دګوند دخپرونو د چارومشر | 84.9 % |
| ۱۷ــ ښاغلی محمداجان بهار دګوند دکلتوري چارومشر | 79.34 % |
| ۱۸ــ ښاغلی سيد عارف دګوند سلاکار | 74.4 % |

د ښاغلي غلام رسول همت او ښاغلي ډاکتر شير افضل ګرد يوال رای او د ټاکنې نتيجه د جرګې په وړاندېز او د دوارو کاندېدانو په موافقه او د ګوند د مشر په منظورۍ خوندي وساتل شوې .

دټاکنې جرګه :

حاجي فضل الرحمن شير .
ډوکتور ګروال حضرت رسول
محمد شيرين ګرديوال
هدايت الله خان بنګش
ډيپلوم انجنير حبيب رسول



**پېښور :** د پښتونامتوليکوال او ډيپلومات خدای (ج ) بخښلی عبدالرحمن پژواك د ۱۹۹٥ کال د جون مياشتې په ۸ نېټه په پېښور کښې وفات شوی او جنازه ئې د ننګرهار د سره رود د ولسوالۍ د باغوانيو په کلي کښې خاورو ته سپارل شوې ده .

د پښتنود ټولنيزا ولسوليزګوند مشر ډاکتر کبير ستوری او د ګوند د مشرانو د جرګې نوروغړو د جرمنۍ د ايسن په ښار کښې د خدای بخښلي پژواك د فاتحې په مراسمو کښې ګډون کړی وو .

د خدای بخښلي عبدالرحمن پژواك هلې ځلې ئې د قام او وطن د سوکالۍ او ابادۍ په لاره کښې وستايلی او د ده مړينه ئې افغان اولس ته يونه جبران کيدونکې تاوان وګڼلو . د پښتنو ټولنيزا ولسوليزګوند د اروا ښاد روح ته د دعا کوی او د کورنۍ او خپلوانو سره ئې خواخوږی ښکاره کوی .

**بن :** د پښتنود ټولنيزا ولسوليزګوند لوی منشي (جنرل سيکرټری ) ښاغلی ايډوکيټ هدايت الله خان بنګش خپل سفر په پښتونخوا کښې پای ته ورساوه او بيرته بن ته رارسيدلی دی . ده په پېښور ، اسلام اباد او ټل کښې د پښتنود سياسي او قومي مشرانو سره ليدنې کتنې او د نظريو بدلون کړيدی .

**مونشن :** د پښتنود ټولنيزا ولسوليزګوند د مونشن د څانګې د ۱۹۹٤ م کال د اګست د مياشتې په يولسمه نېټه د دغه څانګې د نوی ټاکنې غونډه وکړه .
د پښتنود ټولنيزا ولسوليزګوند د مونشن د څانګې د غړو په اکثريت سره ښاغلی حاجي عيسی روفي د PSDP د مونشن د څانګې د مشر په توګه وټاکه او ښاغلی انجنير محمد حنيف صافي د دغه څانګې د مرستيال ښاغلی وزير د مالي چارو مشر ښاغلی انجنير عتيق الله باختری د کلتوري چارو مشر او ښاغلی عبدالوهاب په مونشن کښې د ځوان پښتون د ډلې د مشر په توګه وټاکل شول .

> دهدف لپاره لاری لټوی ، خو د لاری لپاره هدف مه بدلوی .
> «ستوری»



# افغانان داوربه لمبو کښې

## ميرمن شهلا «يار»



په ګران هيواد افغانستان کښې د جګړې راپيدا خوا نړيوالو وليدل چې زمونږ ګران هيواد په کنډواله بدل شو د بې ګناه افغانانو وينې توی شوی د خلکو شرف او ناموس ته په بې ساری توګه سپکاوی وشو د افغانستان مومن او مسلمان ملت چې د روسانو د ماتې په غرض به ئې د خدای (ج ) درګاه ته د مهاجرت او اوارګۍ په سختو شپو او ورځو کښې د مجاهدينو د برياليتوب په خاطر لاس په دعا پورته نيولی وو اوس د همغه مسلمانانو د واکمنۍ راهيسی کور په کور اوربل دی .
د مکتبونو ، پوهنتونونو ، روغتونونو ، وروکتونونو ، وزنتونونو او نورو ځخه داورشنی لوخړی پورته شوی او د وطن ملي سرمايه چې پيغلې ، ځوانان او کوچنيان د درس او تعليم نه بې برخی شول .
نوکه د غه حال وو نويوه ورځ به زمونږ د خلکو د خلاصون د لاری سرنامه هغه متل وګڼي : غل نه تښتی نو مل دی وتښتی .
نو د افغانستان خلك به ترهغې داور په لمبو کښې سوځی ترڅو چې هلته د ملګرو ملتونو پلان له مخې د وسلو په راټولولو باندې نظارت او کنټرول وشي ، سوله راوستل شي او امن برقرار شي . د لوی جرګې د لاری په موقتي توګه ملي زعامت وټاکل شي او بيا د پارلماني ډيموکراسۍ د تطبيق شرايط عملي کړل شي په غيرد هغې به په دغه ټولنه کښې هماغسی د انسانانو وژل دوام ولری او د خلکو او اولس رنځ به باقی پاتې وی .

# دپښتولار «۲۹»

مينه مې د ښکلو هم په سر ستر ګو منلی ده
خو مينه د وطن مې ټولو مينو کښې ښاغلي ده
مينه خو يو حس دی د جسمونو پيوستون ندی
زړه د مينې کور دی مينه زړه کښې غوړيدلي ده
و ينه مې په زړه کښې د وطن په مينه مسته ده
تن کښې مې جذبه د قام ولس راپاريدلي ده
سوچ کښې مې وزمه د ازادۍ او سوکالۍ شته دی
ملا مې د پښتون سياسي يووالي ته تړلي ده
ځمه د يار غيږ ته بې پروا د ګړ نګونو نه
مينه پښتنه مې په ځوانی باندې راغلي ده
ژوند به شي ځلمی د ازادۍ ناوی به راولم
لار مې د نيکونو د پښتو ورته نيولي ده
ستوری د سبا يمه ځليږ مه د غرو په سر
ژوند ته پلوشه د پښتونوالی مې شيندلي ده
( ستوری )

> سکندر چې ماتې وکړه نو کونړ وو
> چې تيمور په پښه ګوډ شؤ باجوړ وو
> انګريزان په تيښته تيښته چې مجبور شو
> دننګ دننګ غرونه ئې په مخ کښې د خيبر وو
> يرغلګر روسان مغلوب چې بيرته لاړل
> ټول افغان ورته نيولی ګډ سنګر وو
> د وطن د ازادۍ په پاك جهاد کښې
> هر افغان نيولی لاس کښې ورته سر وو
> د جهاد افتخارات د ټول ملت دی
> ځکه ټول افغان جوړ کړی يولښکر وو
> ټول ملت دی زيانمن شوی د ی جګړو کې
> لاکن د روند بار د پښتون اولس په سر وو
> ديوی خوا سکر ۲۰ د بل خوا سکاډ وو
> د هر لوری د پښتون په کور محشر وو
> «ن. سالارزی»

# راسره وژړل

«له پیښوره»

زه وطن ته لاړم وطن وران راسره وژړل
لاروغرو رغونو بیابان راسره وژړل
ټول وطن په اور سوی په وینو لمبیدلی و
هرګام سوو غوښو د انسان راسره وژړل
مځکې باندې سور بخمل د وینو غوړیدلی و
دښتو بې کفنه شهیدان راسره وژړل
ماوې زه پردیس یم دوی له مانه پردیس شوی و
خلکو د وطن په وطن ګران راسره وژړل
دا یوغم ئې نه و سل ئې نور غمه ملګری و
ژوند ئې په زوال و زوړ راوځوان راسره وژړل
لوږې زوړ ول، څوك و په خاورو مریضان پراته
فکر خیال او ذهن داخواران راسره وژړل
ساندې وې مرګونه و اهونه و
چاپیرپسل ژړل چاپرخپل ځان راسره وژړل
غم و جنازې وې هدیرې او لحدونه و
بورو ګونډ و رنډ و خپل خپلوان راسره وژړل
اوښکې توېولې چا د ځان چا د جانان په غم
پیغلو په ګودر کښې په ارمان راسره وژړل
زړه مې په لړزان شوچې ئې رنګ ګلوته ورغلم
خیال کښې ښکلو سترګو د جانان راسره وژړل
ته مې را په یاد شوې ستا غمونو لیونی کړمه
یاره ستا کوڅه کښې ستا هجران راسره وژړل
زانې په هوا کښې په فریاد او چغا رسرې وې
زرګو ګلاب رنګه دلبران راسره وژړل
شنه ګل بوټي سوې سره ګلونه رژیدلی و
غم باندې ئې سوې ګلستان راسره وژړل



اوښکې مروری مې د سترګو راروانې شوې
تش و محفلونو ښه ځوانان راسره وژړل
کله چې په مرګ د ځوانیمرګ اشنا خبر شومه
تلمه هدیرې ته تیر دوران راسره وژړل
قبر د اشنا ته چې ئې زه په ژړا ولیدم
مړې په ژړا شو ګورستان راسره وژړل
دې غمجن حالات مې خدایزو زړما ځیګروتوژل
د وارو دا بې وزله انسانان راسره وژړل
داوطن د چا دې دا د غم ژوندون ترخوبه وی
سرمې کړ ګریوان ته خپل ګریوان راسره وژړل
ما دې ویرجن ملت په حال سوې ناری کړلی
لوی ورو ژړل هم ټول جهان راسره وژړل
مځکې ګریوان لوند کړچې زما احوال ئې ولیده
وریځې په ژړا شولې اسمان راسره وژړل
نه دې د زغملو هغه څه چې مالیدلی دی
ځکه مې زړه واره یتیمان راسره وژړل
اورچې پرې بلیږي څه ښه وائي ځای هغه سوځي
ما خپله ژړل د غم داستان راسره وژړل
یار د هر مظلوم دې ورجاریږمه زما قلم
بیا ئې په غمجن مظلوم افغان راسره وژړل

په تلو کښې لږې سترګې راړ ولې شې که نه شې
ټوټې مې د زړګي پیوند ولې شې که نه شې
لوګې دې د نظر د تندرونو نه جانانه
دا پاتې د دنیا ګړه مې پرې سیزلی شې که نه شې
(رحمت شاه سائیل)

# دتاریخ ننګیالي





میرویس خان نیکه   احمدشاه بابا   باچا خان

"خپل عمل د لارې مل" د هر انسان دی
"که څوك ښه شي او که بد شي د خپل ځان دی"
"چې څه وکړي هغه څه به ریبي" بیا
داقانون د طبیعت د دې جهان دی
هر څه د روميې پاتې کیږي صرف یادونه
یاد ژوندی د ننګیالیو د کاروان دی
ننګیالی د تاریخ نه مري تل ژوندی وي
که میرویس که احمدخان که باچا خان دی
ما کبیر ستوري خاپوري پکښې کړي
ازادي د پښتونخوا مې لوی ارمان دی

(کبیر ستوری)




که سپوره وی که موړه وی په شریکه به وی
(باچاخان)

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha Chan)

Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)